مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۳/۰۷/۰۶

# پوهېږې، چې پوهېږم

څورېږې بـه کـړېږې بـه پوهېږې! چې پوهېږم
چې خپل ضمیر دې خوري زه به بیا تا سره څورېږم!

پـه تـا يې لاشعور کې دی عذاب؛ ثواب ګڼلی
شیطان دی رانـه اور تـه غورځوي او زه ژړېږم

راځه ای خوږ مخلوقه خدای تـه ځـو پـر بلـه لاره
تـه هم راسـره ډوب شه او زه دغه دی ډوبېږم

چې چېرتـه مې لـیـلا کـې د بـلا اروا لـیـدلـې
هماغـه شیبه ځان باندې پوهېږم چې شوېږم

بـاوره !ځانته وایمـه چې حج دې مبارک شه!
د زړه کعبې ته ورځ کې خامخا یو ځـل کـوزېږم



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ